محمد اسحاق برکت
ویرجینیا ـ امریکا
۲۵ جنوری ۲۰۰۹

# منـنـه

له خوشحالئ نه په کا لو کې نـــه ځاېـــيرم
د شاعرانو افتخار راته لېـرلي پيغا مـــــونه

چې د( اسير) پيغام مې ولوست انترنيت کې
له خوشحالئ نه په خپل ځای وهـم توپـو نه

د خــــدايتعـالی راباندې لطـــف شــــو
چې( اسير ) زما د زړګي وايستل غمـونـه

کاغذه ورشه احترام کړه په تعظيـم شه
وروسته رويبارشه ورته وايه سلامونه

مـبارکـي را کـــړئ عـالـــــمـه
زه نن ( اسير ) ته امتنان وړاندې کومه

( اسير ) پــه تـــولــو بــانـــدې ګران دی
د شاعرئ بنکلي سره عالم تازه کوينه (نسيم)

پـــرد ی وطـن راتـــــه د و زخ د ی
( اسير ) پخپل شعر راته جوړکړل جنتونه

خپل وطن خو بنايسته او خپل وطن دی
خو اهريمنو کـې جوړ کـړي دوزخونه

( اسير ) د خلکو په دردونو بنه پوهيږي
بې درده يـار ته بـه ونه وايم حالـونه

د زړګــي باغ راتـــه ګـلزار شـــــو
ده ما ته زړه کې ډېر ګلان کرليد ينه

چې ستــا د شعــر کـرښي په کې وي
هغه کتاب په خوشحالۍ شروع کومه

د بـې وطنـۍ پـــه درد بـــه مړ يـــم
چې د( اسير) (نسيم)  راوالوت جوړبـه يمه

چې د( اسير ) د فروتنۍ نښې په کـــې وي
هغه شخصيت ته په احتـرام ودرېـــږمــه

چې  دقلم ياران يو ځای شي انترنيت کې
په رقيـبانو به دوی جوړ کړي ماتمونـه

د ( معـروفي ) به دا خـدمت د چا هېر نه شي
چې ليکوالانـوتـه يې جـوړ کـړل مجلسونــــه